# بادام: د ونو
# غيرانتاني نواقص

ټيلفون: 977-758-0799 برېښناليك:javid.hamidzada@rootsofpeace.org



## يوه ارثي ناروغۍ (عيب) څه شی دي؟

د بادامو ډيري ډولونه د يو ډول ناروغۍ زغمي چې د تودوخې په پايله کې منځ ته راځي چې نومړې ناروغي د وخت په تيريدو سره په حاصلاتو کې دبښکاره کمښت سبب کيداي شي. دا ستونځه يواځې په هغو ارثي موادو کې واقع کيږي چې په مساعدو ونو کې شته وي.

## د ارثي ناروغيو سره څه کولاي شو؟

1. **د PHDP هغه مورنۍ ونې غوره کړئ چې هيڅکله يي دغوټيو نواقص نه وي ښکاره کړي.**

   هر نوع يا ډول وارزوئ او که چېري ونې د يو ځانګړې ونې (clone) څخه خپرې شوې وي چې په وروستيو نسلونو کې علائمښکاره کوي، دا ونه بايد د



   هغې ونې سره بدله شي چې هيڅ ډول اعراض يې نه ديښکاره کړي. په دې اړه د ريکارډ ساتل ډير اړين دي.

2. **د اعراضو څارنه**

   أ. په پسرلي کې دبښاخونو د څوکو غوټيو ته ځير شئ، چې مړې ښکاري يا نه شي کولاي چې په سمه توګه غوټۍ و غوړوي.

   ب. هغو ونو ته ځير شي چې منځنۍ څانګې يي پورته اعراض لري خو لوړې څوکې يې روغې دي.

   ج. ځيږ او خړ پوستکي معمولاً د هغو ونو په ډډونو بانديښکاره کيږي چې د غوټيو د نه غوړيدو ارثي ناروغۍ ولري.

3. **د نومړې ستنوځې مخنيوي**

   أ. يواځې د هغو ونو يا مورنيو څخه پيوند واخلئ چې هيڅکله يي دا ستونځه نه وېښکاره کړي.

   ب. د خپل پيوند په سرچينې او تاريخ باندي ځان پوه کړئ.






د جان ډرايور، کورکي لوين او مارک په واسطه
چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د نړوالی د پرمختيا پرګـرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابلټيلفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوې مسؤليت په بشپړه توګـه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګـندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلاديبټول حقوق خوندي دي.

د ډيرو معلوماتو لپاره د: www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu مراجعه وشي